# د پښتو ژبې په وده کښې د تعلیمي نصاب کردار

# THE ROLE OF CURRICULUM IN THE PROMOTION OF PASHTO LANGUAGE

Dr.Javed Iqbal *

**Abstract**

Pashto is an ancient language of a huge population of Pashtoon nation of the subcontinent.But, unfortunately, it could neither remain the language of power at any stage and era, nor,anyone monarch had paid considerable heed to the promotion of Pashto language at officialstage as well in curricula.Notwithstanding, an official status was conferred to Pashto language in the constitution ofmodern Afghanistan along with Persian language. While, similarly, it was officially used asstate language in the Swat State for a short period.When it comes to the British era, the colonists had too plummeted Pashto language in theirpower sway except for some contribution made by their officers.However, some candid efforts were made at personal level by a few eminent nationalists andscholars, particularly by Khan Abdul Ghafar Khan, Abdul Khaliq Khaleeq and Amir HamzaShinwari. While, at the same time some efforts at official level were also spearheaded bySahibzada Abdul Qayum and his companions for Pashto language on various stages ofeducation in the aforementioned region.When Bacha Khan established Azad Schools in the region by his personal efforts, Pashto wasthe medium of instruction in these schools. After the partition, Pashto had partially remaineda part of curriculum at different levels of government educational institutions, but still up tounsatisfactory level. This article represents the mentioned chronological scenario of Pashto language, educationand curriculum along with an analytical approach to show the real status of the language atvarious stages in British India and post-partition era.

**Kye Words:** Curriculum, Language, Education, Socieaty, Communication:

د ژبې او نصاب رشته يو بل سره ډېره کلکه او نۀ بېلېدونکې ده ځکه چې د نصاب ابلاغ دپاره ژبه بنيادي ذريعه وي د نړۍ هره ژبه د نصاب د ابلاغ دپاره د بنيادي وسيلې کارکوي. دغه شان پښتو ژبه هم په مخلتفو وختونو کښې د نصابي ابلاغ دپاره بنيادي ذريعه او وسيله پاتې شوې ده. څنګه چې ژبه د نصاب ابلاغ کوي، د نصاب په تفهيم کښې د بنيادي وسيلې وظيفه تر سره کوي او په مجموعي توګه د نصاب په ترسيل او تفهيم

* Chairman Pashto Department Islamia College University Peshawar

کښې اساني پيدا کوي هم دغه شان نصاب هم د ژبې په بقاء، ارتقاء، خورونه او وده کښې بنيادي کردار ادا کوي. په دې توګه ژبه او نصاب يو بل د پاره د لازم او ملزوم حېثيت لري. نصاب که د خپل ابلاغ دپاره د ژبې د وسيلې نه مرسته نۀ اخلي نو نصاب خپل بنيادي مقصد او مرام نۀ شي تر لاسه کولے او بل لور ته کومې ژبې چې د نصابي ابلاغ وسيلې نۀ جوړيږي يعني د نصاب برخه نۀ جوړيږي هغه ژبې د خپلې ودې او ارتقاء په حواله د ستونځو سره مخ کيږي.

د ژبو د ودې او ارتقاء ذريعې او وسيلې ګڼ شمېر کېدلے شي خو يوه بنيادي ذريعه ئې د نصاب برخه او وسيله جوړېدل هم دي. په هم دغه تناظر کښې چې مونږ د پښتو ژبې د ودې او ارتقاء جائزه اخلو نو مختلف ګڼ شمېر منفي او مثبت عوامل زمونږ مخې ته راځي چې د مختلفو دورونو په تاريخي پس منظر کښې ئې جاج اخستلے کېدے شي. د دغه جاج اخستلو نه مخکښې د يوې عمومي غلط فهمۍ وضاحت هم ضروري دے چې عموماً زمونږ په تعليمي منظر نامه کښې نصاب د مختلفو کتابونو لولولو او لوستلو ته وئيلے شي چې د نصاب اصلي مفهوم او بنيادي روح ئې شاته پريښے وي او هم دغه عمل يعني لوستلو او لولولو د پاره د کتابونو انتخاب ته نصاب وئيلے شي. ځکه په دې موقع د نصاب د اصلي روح او بنيادي مفهوم لنډ شان وضاحت هم ضروري دے. البته د دغه مختصر وضاحت نه وړاندې د نصاب په حقله د ذکر شوې غلط فهمۍ جوتولو دپاره دهغه ادارئې نه يوه حواله پېش کول ضروري ګڼم چې ما د پښتو څانګې بلوچستان پوهنتون تکتو مجلې د جنوري – جون 2014 ګڼې دپاره د ذکر شوې مجلې د مدير په حېث ليکلې وه. د دغه ادارئې وړومبۍ برخه داسې ده.

"په تعليمي ادارو کښې د نصاب، ښاکنه او ښودنه د طالب علمانو په علمي غنا کښې اضافه کوي او بيا دغه علمي اضافه د ملک، قام او اولس په رغاونه او تهذيب و تمدن کښې خپل کردار ادا کوي، ځکه د نصاب د غير معمولي اهميت نه کله هم انکار نۀ شي کېدے، خو په دې موقع يوه بنيادي پوښتنه سر پورته کوي چې آيا نصاب محض د څو کتابونو د انتخاب نوم دے لکه عموماً چې په تعليمي ادارو کښې لولولے شي او که نه نصاب د فطري او سماجي علومو د بنيادي نکتو په حقله د طالب علمانو د ذهنيت او تصور (Concept) د روښانولو نوم دے، په دغه بنيادي

پوښتنه که غور وشي نو څرګنده به شي چې د نصاب اصل مقصد او منشا په یوه موضوع، مسئله یا یو مخصوص میدان کښې د علم د انتقالولو او ذهنیت او تصور د روښانولو نوم دے چې بیا هم دغه طالب علمان د هم دغه نصاب د زده کړې، اخستنې او خپلولو نه پس په ټولنه کښې په احسنه توګه خپل کردار ادا کړي. دا صحیح ده چې د متعلقه نصاب د حصول او زده کړې دپاره څۀ ذریعې هم په کار دي او په دغو ذریعو کښې بنیادي ذریعه په متعلقه موضوع د کتابونو انتخاب دے، خو ضروري نۀ ده چې صرف د منتخبو کتابونو د لوستلو نه پس دې اصلي مقصد هم ترلاسه شي او د نصاب زده کړه او اخستنه دې هم وشي. د متعلقه نصاب په حقله د ذهنیت روښانول د منتخبو کتابونو نه علاوه د نورو متعلقه کتابونو نه هم کېدے شي خو بنیادي مقصد د مسئلې تفهیم دے او بیا دغه تفهیم په کار را وستل دي،(۱)

د ذکر شوې غلط فهمۍ د ازالې په توګه په دغه اداریه کښې د نصاب د اصلي روح او بنیادي وضاحت هم شوے دے او د نصاب د اهمیت په لور هم اشارې شوې دي. خو په دې موقع د نصاب د اصلي روح او بنیادي مقصد په حقله شوے وضاحت د حوالې په توګه وړاندې کولے شي چې په دې ډول دے:

"نصاب باید د هر قسمه خوښې، ناخوښې او تعصباتو نه پاک وي او اصل مقصد دې د علم ترسیل او انتقال وي، که داسې وشي نو بیا به دا خبره په اسانه څرګنده شي چې نصاب محض د منتخبو کتابونو نوم نۀ دے بلکې دغهکتابونه د نصاب د وضاحت او علم د ترسیل او ابلاغ ذریعه وي په دې بنیاد د کتابونو د انتخاب نه علاوه د یو نصاب دپاره باقاعده نصابي خاکه (Course Outline) ضروري ده او بیا د دغه نصابي خاکې د ابلاغ دپاره د یوې مؤثرې ذریعې په حېث د متعلقه کتابونو چوڼ په کار دے خو دا خبره باید یاده وي چې صرف دکتابونو لولولو سره د نصاب ترسیل نۀ شي کېدے، تر څو چې د ذهنیت او تصور په روښانولو د ټولو ممکنه ذریعو نه کار نۀ وي اخستے شوے. زمونږ د ملک د تعلیمي ادارو په نصاب سازۍ کښې که دغه اصول په نظر کښې وساتلے شي نو یقیناً به د ټولنې په تهذیب او ارتقاء کښې بهترې نتیجې مخې ته راتلل ممکن شي."(۲)

د نصاب په حقله دغه وضاحت د هرې نصابي درجې دپاره يو اجتماعي تصور وړاندې کوي خو مونږ ته معلومه ده چې د علمي ابلاغ او ترسيل باقاعده درجې مختلفې وي د سکول د وړومبۍ درجې نه واخله د تعليم د اعلیٰ درجو پورې د نصاب خپل خپل ضرورتونه او غوښتنې وي خو دا خبره بايد په نظر کښې وساتلې شي چې د نصاب د باقاعده تصور وړومبۍ خاکه د سکول د درجې دپاره متعارف کړے شوې وه او دغسې دسکول د درجې نه د نصاب منظمه خاکه مخ په وړاندې تللې ده او د اعلیٰ تعليم د مختلفو درجو په لور ئې سفر کړے دے. د نور وضاحت دپاره د نصاب د بنيادي روح څرګندولو دپاره څو حوالې پېش کوم.

"تعلیمی ادارے کی ایسی تمام سر گرمیاں اور اسکا پورا نظام جو طلبہ کی ضروریات، انکی صلاحیتوں اور متعلقہ تعلیمی مقاصد کے حصول کو مد نظر رکھ کر ترتیب دیا جاتا ہے۔ نصاب کے دائرہ کار میں شامل ہے۔"(۳)

ترجمه: د تعليمي ادارې داسې ټولې هلې ځلې او د هغې پوره نظام چې د زده کوونکيو د ضرورت، صلاحيتونو او تعليمي هدفونو حصول په نظر کښې وساتلے شي ته نصاب وئيلے شي-

د هم دغه وضاحتي تعريف په تسلسل کښې نصاب په بنيادي توګه د زدکړې، علم او معلوماتو د حصول سره تړلے شوےدے چې پکښې د بنيادي تصور په حيث د سکول د درجې ذکر هم شوے دے:

The total learning experience provided by a school. It includes the content of courses (The Syllabus),the methods employed like norms and values, which (Strategies) and other aspects, relate to the way the school is organized.”(4)

ترجمه: د ښوونځي له خوا فراهم شوې د زدکړې ټوله تجربه-په دې کښې د کورسونو مواد (نصاب)، استعمال شوې طريقې (حکمت عملي) او نور اړخونو لکه اصول او اقدار کوم چې د ښوونځي تنظيم شوې طريقې پورې اړه لري-

په دغو وضاحتونو او حوالو کښې مونږ ته جوته شوه چې د نصاب بنيادي مقصد او روح يواځې د کتابونو لولول نۀ دي بلکې د علم او معلوماتو د تصوراتو زده کړه او وضاحت دے چې بنيادي درجه ئې د سکول ده او په تدريجي ډول د هرې اعلیٰ علمي او تعليمي

درجې پورې د ټولو دستیابو او ممکنه وسیلو او ذریعو په لاره د علم او معلوماتو بنیادي تصوراتو ته رسېدل په حقیقت کښې نصاب دے چې خپلې خپلې پېمانې، معیارونه او درجې لري. په دغه تسلسل کښې د کتاب لولول هم یوه وسیله او ذریعه ده او نورې ګڼ شمېر ذریعې هم کېدے شي چې د اصلي او بنیادي تصور (Concept) د تفهیم دپاره په کار راوستلے شي.

په دغه پس منظر کښې چې د پښتو نصاب او پښتو ژبې په تعلق، تړون او رشته خبره کوو او ورسره د سکول او تعلیم تصور هم ملګرے کوو نو مونږ ته د دریو بنیادي تصوراتو یعني تعلیم، ژبه او نصاب یو تکون مخې ته راځي او د هم دغه تکون په تناظر کښې د پښتو ژبې په وده او ارتقاء کښې د نصاب د کردار وضاحت کېدے شي د پښتو او پښتنو د ذکر شوي پس منظر د جاج اخستلو دپاره د نصاب او ژبې نه مخکښې پښتون اولس او پښتنه ټولنه کښې د رسمي او نصابي تعلیم په حقله هم لنډ وضاحت په کار دے.

زمونږ تاریخ او ټولنیز عوامل په دې ګواه دي چې پښتون اولس عموماً د خپل جنګجو فطرت او حالاتو په وجه د قلم د استعمال او علمي ماحول نه لرې پاتې شوے دے. په دغه وجه د دې اولس د رسمي تعلیم هېنداره هم ډېره تتته پاتې شوې ده او هر کله چې د رسمي تعلیم رفتار او سفر سست وي نو د نصابي ضرورتونو احساس هم زیات تېز او فعال نهٔ وي. د تعلیم او نصاب جدید تصور برصغیر ته د انګرېز راتګ سره راغلے دے خو پښتون اولس په دغه وخت کښې هم د جدید رسمي تعلیمي سفر کښې ډېر وروستوپاتې شوے دے. د پښتو لیکوال او د تعلیم ماهر ډاکټر محمد سهېل خان خپله د پي ایچ ډي مقاله کښې د پښتنو تعلیمي رجحان او بیا په خصوصي توګه د انګرېز دور کښې د باچاخان د ازادو سکولونو د نصاب او ژبې په لور اشاره کړې ده او لیکلي ئې دي:

> "The medium of instruction was Pashtu, being mother tongue; it received gigantic recognition from the masses. English language was considered as medium of civilization and Urdu as a sophisticated communication languagein those daysInitiating Pashtu as medium of instruction was the first ever example, in any kind of institution in the history of the province. Education in the maternal language not only enhances the conceptual learning, but to create, develop and invent new things and theories."(5)

ترجمه: د ښوونې او روزنې وسیله پښتو وه- د مورنۍ ژبې له وجې ئې په عوامو کښې زیاته پزیرائي تر لاسه کړه- په هغه وخت کښې انګریزي ژبه د تمدن او اردو د ارتباطو ژبه ګڼل کېده- د صوبې په تاریخ کښې په هر ډول اداره کښې د تعلیم د وسیلې په توګه د پښتو پېل ورومبے مثال وۀ- په مورنۍ ژبه کښې زده کړه نۀ یواځې تصوراتي زدکړې ته وده ورکوي بلکې د نوو شیانو تهوریو رامینځ ته کول ، پراختیا او اختراع هم کوي-

د ډاکټر سهېل خان په دې لنډ اقتباس کښې چې د کومو اهمو نکتو په لور اشارې شوې دي هغه په دې ډول کېدے شي:

1. تعلیم په خپله ژبه کښې ورکول د پښتون اولس د سیاسي او سماجي شعوربرخه پاتې شوې ده چې په منظمه توګه ورومبۍ هڅې ئې انجمن اصلاح الافاغنه، خدائي خدمتګار تحریک او خان عبدالغفار خان کړې دي.
2. په خپله ژبه پښتو کښې پښتون اولس ته د باقاعده رسمي تعلیم نصاب د عبدالغفار خان په ازادو سکولونو کښې په اول ځل شروع شوےدے.
3. د نصاب ابلاغ په مورنۍ او خپله ژبه کښې بنیادي اهمیت لري.

په دغو بنیادي نکتو کښې چې کله په ورومبۍ نکته غور وکړے شي نو اندازه کېږي چې تعلیم په خپله مورنۍ ژبه کښ ورکول د پښتنو دانشورانو د توجه مرکز پاتې شوې ده خو دغه توجه پښتنو دانشورو ډېره وروستو د شلمې صدۍ په ورومبنو عشرو کښې کړې دي چې کرېډټ ئې په رښتیا هم د خان عبدالغفار خان خدائي خدمتګار تحریک او ځنو قام پرستو دانشورو ته ځي په خصوصي توګه هغه پښتنو ادیبانو او شاعرانو وخت په وخت دا حساس راژوندے کړے دے د چا چې خپلې ژبې پښتو سره کلک روحاني، قامي او ملي تړون پاتې شوے دے. تعلیم په خپله مورنۍ ژبه کښې ورکول په عالمي توګه هم د تعلیم د ماهرانو بنیادي نظریه پاتې شوې ده. خصوصاً د ابتدائي تعلیم په حقله ټول د تعلیم ماهران په دې نظریه متفق دي چې پروفېسر داور خان داؤد صاحب ورته داسې اشاره کوي:

"دا یو منلے شوے بین الاقوامي حقیقت دے چې پرائمري کلاسونو کښې دې ذریعۀ تعلیم د ماشومانو مورنۍ ژبه وي، ځکه چې بله ژبه کښې تعلیم ورکولو سره په ټوله دنیا کښې بې شمېره مسئلې پیدا شوې دي. لکه چې وړاندې ورته هم اشاره شوې ده. د ټولې دنیا د تعلیم ماهران وائې

چېابتدائي تعليم ترهغې موثر کېدے نۀ شي تر څو چې دا د ماشوم په
مورنۍ ژبه کښې ورنۀ کړے شي."(۶)

په عالمي توګه د دغه منلے شوي حقيقت ادراک پښتنو ليکوالو، دانشورو او شاعرانو هم کړے دے چې دلته ئې څومثالونه وړاندې کولے شي. د شلمې صدۍ لوی شاعر او دانشور حمزه بابا د شعر په ژبه داسې وائي:

"بويه چې تعليم ئې وي اول په خپله ژبه
ځکه چې تعليم خو وي افضل په خپله ژبه"(۷)

نوميالے قام پرست پښتون دانشور او شاعر ولي محمد طوفان په خپله شاعرۍ کښې د ذکر شوې نظرئې تائيد داسې کوي:

"ژبه ژوندون دے چې ترې بيئله شي دا
حساب قامونه په ژوندو کښې نۀ وي
د پښتنو دپاره زهر ګنم
هغه تعليم چې په پښتو کښې نۀ وي"(۸)

دې لړ کښې چې په حکومي او سرکاري سطح کومې هڅې شوې دي او پښتو د تعليمي نصاب د ژبې جوړولو دپاره کوم قدمونه اخستے شوي دي د هغې يادونه عبدالخالق خليق صاحب هم د شعر په ژبه کړې ده، چې په خپله د خليق صاحب کردار هم دے لړ کښې ډېر اهم دے هغه وائي:

"پښتو ژبه چېزمونږ قومي زبان دے
د غفلت د پښتنو نه په ارمان دے
هر يو قام اول تعليم په خپل زبان کړي
مګر يو پښتون تعليم په بل زبان کړي
په تحريک د باچا خان فخر افغان
اسمبلۍ کښې تجويز پېش شو په دا شان
چې سکولونو کښېدې شي جاري پښتو

دا دې حق پیدائشي د پښتنو
پرائمري سکولونو کښې پښتو جاري شوه
څۀ خو ژبو کښې په شمېر ژبه ناري شوه(۹)

د عبدالخالق خلیق صاحب د نصابي هڅو او پښتو د تعلیمي سرګرمو برخه جوړولو په حقله د هغۀ د اقداماتو یادونه پروفېسر داور خان داؤد صاحب په دې ټکو کړې ده:

"د پاکستان د قیام نه مخکښې د برطانوي حکومت په دور کښې د صوبه سرحد (خېبر پښتونخوا) په صوبائي اسمبلۍ کښې د پښتو ژبې په تعلیمي نصاب کښې د شاملولو مسئله راپورته شوه او د دې مقصد دپاره د پښتو ژبې معروف ادیب عبدالخالق خلیق نصاب هم تیارکړے ؤ خو د اسمبلۍ ځنې ممبرانو ئې مخالفت وکړو."(۱۰)

دا هغه دور ؤ چې انګرېز حکمران زمونږ د سیمې د مختلفو ژبو او اولسونو دپاره د تعلیم او نصاب پالیسۍ جوړولې او پښتو ئې عموماً د نظره غورزوله خو پښتون اولس به په هره موقع دا احساس راپورته کولو چې پښتو ژبه دې د نصاب برخه وي پښتون اولس خو په شعوري توګه د دغه احساس په نتیجه کښې عملي قدمونه د شلمې صدۍ په وړومبنو عشرو کښې پورته کړي دي. خو د دې نه مخکښې د انګرېز د حکمرانۍ په دور کښې په ۱۸۶۰ کښې هم یوه تجربه شوې وه چې د تعلیم، نصاب او ژبې د تکون په حواله یوه کامیابه تجربه نۀ وه ډاکټر طارق رحمان د دغه تجربې ذکر کړے دے او وئیلي ئې دي چې:

"د ۱۸۶۰ په عشره کښې د سرحدي سیمې د تعلیم حاکمانو د پښتو ویونکې د سرحدي سیمې په علاقو کښې د پښتو ژبې ښودنې یوه تجربه شروع کړه. (چې ورته صوبه سرحدوئیلے شي) په لاندینو جماتونو کښې یو کتاب چې نصاب افغاني ورته وئیلے شي، نه به ئې پښتو ټکي او هندسې ښودلې شوې. دې کتاب کښې د پښتو او پارسۍ دواړو ژبوټکي وو. د دې کتاب په وجه به د پارسي معلومات په قلار قلار حاصل کړے شي. ځکه چې دې کتاب کښې په شعرونو کښې د دواړو ژبوټکي موجود دي. د دې نه پس به سعادت نامه او قواعد افغاني ښودلې شو. سعادت نامه د قصویوه مجموعه وه او قواعدنامه د ګرامر کتاب ؤ په مخکښې جماعت کښې به

دکلیله دمنه یا انوار سهیلي پښتو تر جمه ښودلې شوه. خو په پینځم جماعت کښې پښتو به ختمه کړے شوه او طالب علمانو به صرف اردو او پارسي زدهکوله ... دا یوه معمولي تجربه وه د دې د نتیجې هیڅ پته نهٔ لګي خو بیا هم انګریز افیسرانو په ذاتي توګه داسې تجربې کولې."(۱۱)

د دغه ناکامه تجربې نه پس وروستو باقاعده هڅې هم هغه د خدائي خدمتګار تحریک د سیوري لاندې شوي دي چې په کښې د میاشتنۍ "پښتون"مجلې کردار ډېر اهمیت لري. د "پښتون" مجلې د ژبې د بقاء دپاره عمومي کردار او نصاب او تعلیم په حواله د دغه مجلې د خصوصي کردار په حقله ډاکټر طارق رحمان لیکي:

"پښتو مجلې د ژبې د منصوبه بندۍ مسئله په پښتو ژبه کښې پورته کړه. دې مجلې په دې خبره ټینګار اوکړو. چې پښتو د پښتون د شناخت علامت دے او خلقو او حاکمانو ته ئې په تاکید سره اووئېل چې پښتو دې د ژوند په هر بو مد کښې استعمال کړے شي. د مثال په توګه د دې مجلې د اګست، ستمبر ۱۹۲۹په اشاعت کښې غفار خان لیکي چې د برطانوي تعلیمي نظام مطلب صرف د برطانوي تسلط برقرار ساتل دي. او خلق د دې نظام نه په شادي. هغهٔ دا مطالبه هم اوکړه چې پښتو دې دپرائمري سطح باندې د تعلیم ذریعه اوګرځولے شي."(۱۲)

د انګرېز د حکمرانۍ په دور کښې د پښتو نصابي حېثیت او اهمیت ته ډېر نقصان رسېدلے ؤ. ځکه د پښتنو قام پرستو دانشورو د پاره ژبه او نصاب یوه ډېره حساسه او اهمه مسئله وه. د انګرېز دور نه مخکښې پښتون اولس کښې د اسلامي اقدارو د نصاب برخه جوړول د توجه بنیادي نکته وه خو دغه اسلامي اقدارو دپاره ئې هم د ابلاغ ذریعه پښتو ژبه غوره کړې وه. نومیالي محقق او دانشور سید تقویم کاکاخېل "په پښتو ژبه کښې د تعلیم او تدریس کار" د عنوان لاندې یوه تحقیقي مقاله لیکلې ده چې په کښې ئې د تعلیم او تدریس په لړ کښې د پښتو د نصابي کتابونو د ذکر په وخت د خیرالبیان، مخزن الاسلام، رشید البیان، نافع المسلمین وغیره ذکر د درسي او نصابي کتابونو په حېث کړے دے خو دا هم دپښتو باقاعده او منظم نصاب نهٔ ؤ او بیا انګرېز حکمران خو دغه

نصابي نظام ته هم ډېر زيان ورسولو چې سيد تقويم الحق کاکاخېل ئې داسې يادونه کړې ده:

"د انګرېزانو په حکومت کښې دا قسم علمي اداري تس نس شوې. اکثرو عالمانو او بزرګانو قلمونه کتابونه په جذدانونو کښې کېښول او تورې ته ئې لاس کړو. دوی خپل ژوند د الله دپاره جهاد ته وقف کړو. کوم چېهسې کښېناستل، هغوی د تېزو تندو طوفانونو مقابله اونۀ کړے شوه او همت ئې بائلو. سره د دې هر څۀ دومره اوشوه چې عام خلق په دوؤډلو کښې تقسيمشول چا چې دنيا خوښه کړه. د هغوی بچي انګرېزي سکولونو او کالجونو ته لاړل. او چاچې دين غوره کړو هغوی خپل اولاد د برصغير منظمو او مربوطو درس ګاهونو ته واستول. ډيلے، دېوبند او سهارنپور د ديني علومو مرکزونه وو. چرته چې د علومو او فنونو په درس کښې د تصوف رنګ هم شامل ؤ. هلته به د ديني تعليم سره سره ددېني سياست تربيت هم ورکولے شو. د دې ادارو درسي ژبه اردو وه. انګرېزانو هم په خپلو سکولونو کښې دويمه ژبه اردو ګرځولې وه. او په دې شان پښتو تر مودو مودو د درس او تدريس ژبه پاتې نۀ شوه."(۱۳)

د انګرېز رائج کړي دغه تعليمي نظام کښې د پښتو درسي او نصابي حېثيت د پښتون اولس او دانشورې طبقې په نظر کښې ؤ او دې لړ کښې به ئې وخت په وخت د پښتو ژبې د بقاءاو ترقۍ دپاره اواز هم پورته کاوۀ چې په کښې د تعليم او نصاب په لور زياته توجه کېدله. د انګرېز په دور کښې په حکومتي سطح څنې کوششونه صاحبزاده عبدالقيوم هم کړي وو چې د اسمبلۍ په اجلاسونو کښې ئې د قرار دادونو په شکل پښتو ژبې او نصاب دپاره اواز پورته کړے دے. ډاکټر خان صاحب او ميا جعفر شاه هم د انګرېز په دور کښې دغه قسمه هڅې کړې دي چې د هندکو ژبې ويونکو او غېر مسلمو غړو د مخالفت په وجه ورته کاميابي نۀ ده تر لاسه شوه. دپښتنو دانشورو دغه هڅې د پاکستان د ازادۍ نه پس هم جاري پاتې شوې دي. د جولائي – ستمبر ۱۹۵۹د پښتو مجلې په اداريه کښې مولانا عبدالقادر د پښتو ژبې، تعليم اونصاب په لور داسې توجه راګرځوي.

"لوستونکي به په دې خبر وي چې د پاکستان مرکزي حکومت د دې پخې ارادېچې په ملک کښې دې تعليم عام شي. يو نتيجه دا وه. چې يو قامي کمېشن يا جرګه مقرر

شوه. دې کمېشن د ډېر تحقيق او محنت نه پس يو اوږد رپوټ تيار کړ. چې په هغېکښې ئې د تعليم زوړ نظام کښې د ځني بنيادي تبديلو راوستو سفارش وکړ. او حکومت د دې جرګې دغه سفارشونه هم قبول کړل ... په دېکښې يو غټ او بنيادي تجويز دا دے چې مورنۍ ژبه دې د ابتدائي تعليم ذريعه ومنلې شي. ګويا که نوي داخلېدونکي بچي به اوس په پښتو ويونکو علاقو کښې ټول مضمونونه په خپله مورنۍ ژبه کښې لولي. او ملي ژبه اردو به دويم کال کښې لکه د يوې ژبې په حېثيت خولولي ولې ذريعه تعليم به ئې دغه نۀ وي. دا يقيناً يو لوی انقلابي تجويز دے. او د تعليم ماهران دا رائې لري. چې د دې غټه فائده به دا ويچې ليک لوست به د ملک په هره حصه کښې ډېر عام شي. د تعليم او اخلاق معيار به هم لوړشي او د کلي هر بچے به چې د پرائمري نه مخکښې تعليم جاري ونۀ ساتلے شي هم به ئې دومره څۀ زده کړي وي. چې د دين دنيا په ښۀ بد به هم پوهيږي. او دپښتو ژبې اخبارات، رسالې او کتابونه به په اسانه لوستے شي. "(۱۴)

د هم دغه مجلې "پښتو" مدير چې کله سيد رسول رسا او نائب مدير خيال بخاري صاحب ؤ نو يو ځل بيا د فروري ۱۹۷۰په ګڼه کښې ليکلے شوې اداريه کښې په دې مسئله خبره شوې ده چې په دې ډول ده.

"زمونږ د اطلاع مطابق پښتو ژبه په سابق صوبه سرحد، او ملحقه قبائلي علاقه کښې په حېثيت ديو مضمون ياد يوې ژبې، ادنیٰ نه واخلې تر لسم جماعت پورې شامله ده. خو داسېچې د ادنیٰ نه ترپنځم جماعت پورې لازمي، او د شپږم نه ترلسمه پورے په حيثيت ديو اختياري مضمون ښيلے شي. په شپږم، اووم، اتم کښې د سکولونو طالب علمان پښتو د عربۍ او فارسۍ مقابله کښې په حېثيت د يو اختياري مضمون اغستے شي. او په نهم لسم کښې طالب علمان پښتون د عربۍ، فارسۍ او اختياري تاريخ په مقابله کښې په حيثيت د يو اختياري مضمون وئيلے شي. خو اردو په حېثيت د يوې قومي ژبې د ادنیٰ نه ترلسمه په حېثيت د لازمي مضمون زمونږ په سکولونو کښې رائجه ده. په سکولونو کښې فارسۍ، عربۍ اردو او پښتو اورينټل استاذان شي. او د استاذان اکثر د فارسۍ، عربۍ او اردو ښيلو دپاره خو ټرېن ياسند يافته او ترتيب يافته وي. او د دې په وجه دوی کوشش کويچې په مډل او تر

ځۀ حده په هائي سکولونو کښې هم طالب علمان پښتو په حېثيت د يو مضمون وانخلي، ځکه چې دوی ته ئې ښئل ګران دي او په مډل کلاسونو کښې په خاص طور، د پښتو کار ډېر خراب دے. اول خو زمونږ د اطلاع مطابق هډو طالب علمانو ته دا ښئيلے نۀ شي. چې ګندې هغوی د عربۍ او فارسۍ په مقابله کښې پښتو هم اغستے شي، او که ځني طالب علمانو ته معلومه شي، نو بيا هغوی ته د پښتو ښئيلو دپاره استاذ نۀ وي. نتيجه ئې دا وي، چې په سکولونو کښې د پښتو مضمون تش په نوم په سرکاري کاغذونو ليکلے پاتېشي. او په عمل کښې و رباندي ډېر کم کارکيږي. يعنی د نشت برابر او دغه شان زمونږ علاقائي پښتو ژبه يتيمه يسيره پاتې شي او دغه شان مونږ ورځ تر ورځ د نورو ژبو متازه کېږو. او زمونږ طالب علمان دنورو ژبو د لوستلو اوليکلو خو ځۀ مات ګډ جوګه شي. خو د خپلې مورنۍ ژبې نه محرومه پاتې شي."(۱۵)

د پښتو نصاب او تعليم په دې سفر کښې چې خبره د سکول سطح نه کالج او يونيورسټۍ ته رسي نو دې لړ کښې په کالجونو او يونيورسټو کښې د پښتو نصاب په حواله ځني کوششونه زمونږ مخې ته راځي چې بنيادي کردار په کښې د ځنو پښتنو دانشورو دذاتي هڅو او بيا د پېښور يونيورسټۍ دے. د دغه کردار ذکر ميا تقويم الحق کاکاخېل په دې ټکو کوي:

" پېښور يونيورسټۍ په خپل وړمبي کيلنډر (م ۵ – ۱۹۵۰) کښې پښتو د ايف اے او بي اے دپاره په طور د يو اختياري مضمون نصاب کښې شامله کړه. او په کال ۱۹۵۲ کښې ما د خپلو نورو فرائضو سره سره د ايف اے په سطحه د پښتو لولول شروع کړل. داپه ټوله صوبه کښې اولنے ځل ؤچې په ګورنمنټ کالج بنو کښې ما د پښتو تدريس شروع کړو. چې د صوبه سرحد پهلړې يوګټ کښې پروت دے."(۱۶)

او بيا چې د يونيورسټۍ په سطح د پښتو نصاب خبره د ايم اے، ايم فل او پي ايچ ډي د درجې اعلی تعليم ته ورسېده نو د پښتو د نصابي حيثت په حقله ميا تقويم الحق کاکاخېل داسې معلومات راکوي:

" په کال ۱۹۶۱ کښې پېښور يونيورسټۍ لکه د نورو وطني او علاقائي ژبو د شعبو د پښتو د تدريس شعبه پرانسته او د يونيورسټۍ په سطحه د بي اے نه پس د پښتو د

تدریس کار شروع شو. په کال ۱۹۶۳کښې د طالب علمانو وړومبۍ ډلې د ایم اے پښتو ډګرۍ واخستې. د ایم فل په سطح د تحقیق کار په کال ۱۹۷۶کښې په اول ځل شروع شو. د پښتو شعبې اخترخان پښتو ادب کښې د ایم فل ډګري واخسته دا د کال ۱۹۷۹ خبره ده. د دې نه پس هم دے طالب علم د ډاکټر آف فلاسفي د ډګرۍ دپاره خپله تحقیقي مقاله وړاندې کړه. او په کال ۱۹۸۳کښې د خپلې مقالې دفاع کولونه پس ئې د اولنې پي ایچ ډي ډګري اخستو فخر حاصل کړو. د دې نه پس د پېښور یونیورسټۍ د پښتو څانګې نورو استاذانو او طالب علمانو هم د تحقیق په کار سندونه حاصل کړل او دا سلسله جاري ده."(۱۷)

د کالجونو او یونیورسټیو په سطح د پښتو نصاب کردار اوس د ملک د هائیر ایجوکېشن کمېشن له خوا د بي ایس پښتو په ذریعه په یو نوي انداز مخې ته راځي چې د پښتو ژبې په خورونه، بقاء او ترقۍ کښې په زیاته پراخه پېمانه خپل کردار ادا کوي. په دې موقع دا وئیل به هم بې ځایه نۀ وي چې د بي ایس پښتو په نصاب کښې د ادب هغه ګوشې هم مخې ته راغلې چې تر اوسه ورته د چا پام نۀ ؤ. لکه په نصاب کښې د پښتو ژبې د لهجو برخه شاملول. دې سره سره د بي ایس نور پروګرامونه هم پښتو متعارف کوي. د مثال په توګه په ځینو تعلیمي ادارو کښې د اردو او پاکستان سټډیز کښې پښتو لولولې شي. په نصاب کښې د ترجمې برخه هم وي. دې سره د نورو ژبو ادب هم پښتو ته را داخلیږي او ژبه ورسره غني کیږي. یوه ډېره اهمه خبره دا چې نصاب چونکې د حکومتي کمېټیو په تحویل کښې وي. نو تقریباً د یوې مشترکه املا مخې ته راتګ هم یقیني کیږي. چې ګټه ئې په هر صورت پښتو ژبې ته رسي.

پښتو چې په هره سطح د نصاب ژبه وي خو بیا هم د هرې سطحې په تدریس کښې ځنې ستونځې هم مخې ته راځي چې په وخت ئې څرګندونه هم شوې ده. خو د دغو ستونځو او مسئلو کامیاب حل تر اوسه نه خو په سرکاري سطح ممکن شوے دے او نۀ په نجي او انفرادي سطح، څنګه چې مونږ په شروع کښې د نصاب د تعریف او وضاحت په لړ کښې وئیلي دي چې نصاب محض د څو منتخبو کتابونو لولولو ته نۀ وائي خو زمونږ په تعلیمي ادارو کښې عموماً د څومنتخبو کتابونو د څۀ برخو رټه کول داسې ګڼلے شوي دي چې ګویا

د نصاب حق ادا کړے شو. دا یوه داسې مسئله ده چې سنجیده غور او سنجیده حل غواړي پروفېسر داور خان داؤد دې لور ته ډېره په صراحت سره اشاره کړې ده او لیکلي ئې دي چې:

"زمونږ د تعلیمي نظام په تشکیل او تکمیل کښې د ذریعه تعلیم (Medium Of Instruction) مسئله هم ډېر زیات اهمیت لري. که تعلیم محض د طالبعلمانو ذهنونو ته د معلوماتو د رسولو نوم نهٔ وي، بلکې د هغوی ذهنونو ته د ځلا بخښلو، دوی ته د سوچ او فکر د صحیح اسلوب ښودلو او دوی کښې د تخلیقي ذوق او تنقیدی شعور پېدا کولو نوم هم وي، نو دا مقاصد مونږ تر هغه نهٔ شو حاصلولے تر څو چې مونږ په ابتدائي کلاسونو کښې د مورنۍ ژبې نه بغېر ماشومانو ته په بله ژبه کښې تعلیم ورکوؤ."(۱۸)

دغه شان ځنې مسئلې او ستونځې زمونږ د پښتو د استاذانو په پښتو د کمې پوهې او ورسره پښتو ژبې سره د هغوی د کمې دلچسپۍ په وجه پیدا شوې دي. دې نه علاوه دپښتو ژبې د ګڼو لهجو په موجودګۍ کښې د پښتو استاذانو د نهٔ پوهېدلو او د غېر پښتنو استاذانو له خوا د پښتو لولولو په لور ډاکټر طارق رحمان اشارې کړې دي او وئیلي ئې دي:

"د دې غټه وجه دا ده چې په بندوبستي علاقو کښې چې کوم نصابي کتابونه ښودلے شي هغه په یوسفزئی لهجه کښې دي دا هغه لهجه نهٔ ده چې په دې ایجنسۍ کښې استعمالیږي. په دې مسله باندې د پرائمري ټېکسټ بک کښې د ترجمې په وخت کښې د جائزې اخستو په سلسله کښې غور اوکړے شو. خو پښتو ئې په بندوبسي علاقو کښې د استعمالېدونه منع نهٔ کړه. د فاټا اسسټنټ ډائرېکټر چې قطبي لهجه د سوئیلز لهجه ویونکي نهٔ خوښوي خو هغه دا اومنله چې د پښتو ژبې په لار کښې د ټولو نه لوئې خنډ دا دے چې په دې ژبه کښې په تعلیم کولو سره څهٔ روزګار نهٔ ملاویږي. دا هم وئیلې شي چې استاذانو هم مسله پیدا کړې ده ځکه زیات تر استاذان د ډیره اسماعیل خان سره تعلق لرونکي هندکیان دي او یا پښتو نهٔ وائي که چرې ئې وائي هم نو په روانه ئې نهٔ شي وئیلے. بیا هم دا خبره ثابته کړې شوې نهٔ ده او څنګه چې موجوده سروې ګانې ښکاره کوي زیات تر استاذان د تعلیم د پاره پښتو استعمالولے شي."(۱۹)

په داسې صورت حال کښې په ابتدائي درجو کښې خو د پښتو د نصاب اصلي او بنيادي مقصد لا تر اوسه نۀ دے تر لاسه شوے او په غټه پېمانه او د تعليم په اوچتو درجو کښې هم هغه مقاصد په صحيح معنو کښې نۀ دي ترلاسه شوي چې مونږ ئې د پښتو ژبې د بقاء، ترقۍ او ودې دپاره کافي وګڼو. په مډل او هائي سکولونو کښې هم د پښتنو د نصاب لولول نزدې نزدې د هغو ستونځو ښکار دے کوم چې په ابتدائي او پرائمري سطح دے او بيا په کالجونو کښې هم دا رحجان عام دے چې وخت سره سره يو خوا خو د پښتو د استاذانو مقرر تعداد کښې کمے راځي.کوم استاذ چې سبکدوش (ريټائرډ) شي نو بيا د هغۀ پوسټ خالي پرېښودلے شي او کوم استاذان چې موجود هم وي نو هغوی په خپله هم د پښتو د يو مضمون په حېث د اهميت کمولو هڅې کوي او طالب علمان هم د پښتو په مضمون کښې دلچسپي ډېر کمه اخلي. د ايم اے، ايم فل او پي ايچ ډي په سطح د پښتو معيار هم د اطمينان وړ نۀ دے ځکه په مجموعي توګه يو داسې تاثر جوت ښکاري چې د پښتو په ترقۍ کښې د نصاب کوم کردار کېدے شي د هغې هدف ته رسېدل تر اوسه ممکن شوي نۀ دي. که دا لاندينۍ خبرې په نظر کښې وساتلے شي چې:

1. د نصاب په اصلي مفهوم پوهېدل ډېر ضروري دي.
2. د پښتو نصاب په لولولو کښې د حکومت اوسرکار مرسته په حقيقي معنو په کار ده.
3. پښتون اولس ته د خپلې مورنۍ ژبې پښتو د اهميت او ضرورت احساس ضرور په کار دے.
4. دتعليم په هره درجه کښې د نصاب جوړولو په وخت د تعليم د ماهرانو او پوهه استاذانو خدمت ترلاسه کول ضروري دي، چې يو مناسب او متوازن نصاب مرتب کول ممکن شي.
5. دپښتو ژبې زده کړې او تعليم سره اقتصادي او مالي ګټې تړل هم ضروري دي.

د دې قسمه بنيادي خبرو په نظر کښې ساتلو نه پس که د پښتو نصاب د عملي تجربو نه تېر شي نو شايد چې پښتون اولس په صحيح معنو هغه اهداف تر لاسه کړي چې په نتيجه کښې ئې وئيل اسان شي چې د پښتو ژبې په وده او ترقۍ کښې د نصاب کردار بنيادي او د بې پناه اهميت وړ دے.

# حوالې

1. اقبال جاوید، اداریه، مشتموله شپږ میاشتنۍ مجله تکتو، پښتو څانګه بلوچستان پوهنتون کوئټه، جنوري-جون ۲۰۱۴، ص ۸
2. ایضاً، مخ ۹
3. ایس ایم شاہد، نصاب سازی وانسٹرکشن، زیڈاے پرنٹرز، 2014، صفحہ 9
4. Braslasvsky, https://en.wikipedia.org/wiki/curriculum
5. Muhammad Sohail khan, Dr., Bacha Khan vision of alternative education, Bacha Khan chair, Abdul Wali Khan University Mardan, January 2018, P-88.
6. داؤد، داور خان، څېړنه او کره کتنه، ملت پرنټرز لاهور وړومبے چاپ جنوري 2003، 313، 314
7. شینواري، امیر حمزه خان، غزونې، جدون پرېس پېښور، 2000، ص 366
8. طوفان، ولي محمد، بحواله ولي محمد طوفان شخصیت اور فن (از حنیف خلیل) اکادمي ادبیات پاکستان 2017، ص ۸۶، ۸۷
9. خلیق، عبدالخالق، زۀ او زما زمانه، اداره اشاعت سرحد پشاور، مارچ، ۱۹۶۸، ص ۹۳، ۹۴
10. داود، داور خان، څېړنه او کره کتنه، ص ۳۲۰
11. رحمان، طارق، پښتو ژبه (ترجمه د حنیف خلیل) یونیورسټي پبلیشر پېښور، ۲۰۱۱، ۶۳، ۶۴
12. ایضاً، ص ۹، ۱۰
13. کاکاخېل، محمد تقویم الحق، پروفېسر، پښتو ژبه کښې د تعلیم او تدریس کار، مشموله، په سرحدي صوبه کښې وړومبے لساني او ثقافتي کانفرنس، پښتو اکېډمۍ پېښور یونیورسټي، ۱۹۸۶، ص ۱۶۷.
14. مولانا، عبدالقادر، اداریه، مشموله، درې میاشتنۍ مجله پښتو، پښتو اکېډي پېښور یونیورسټي، جلد نمبر ۲، شماره ۴، جولائي – ستمبر، ۱۹۵۹، ص ۱۱
15. رسا، سید رسول، اداریه، مشموله، میاشتیزه مجله پښتو، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، جلد ۲، شماره ۱، جنوري ۱۹۷۰، ص ۲، ۳
16. کاکاخېل، محمد تقویم الحق، پښتو ژبه کښې د تعلیم او تدریس کار، مشموله، په سرحدي صوبه وړومبے لساني او ثقافتي کانفرنس، ص ۱۶۹، ۱۷۰
17. ایضاً، ص ۱۷۰، ۱۷۱
18. داؤد، داور خان، څېړنه او کره کتنه، ص ۲۹۸، ۲۹۹.
19. رحمن، طارق، پښتو ژبه (ترجمه د حنیف خلیل)، ص ۳۳

## References


1. Iqbal, Javed, Idarya, Mashmola Shapg Mayashtanai majala Takatu, Pashto, sanga Balochistan Pohantun Quetta, Jan-June 2014, safa 8
2. Eazan Makh 9
3. SM Shahid, Nasab sazi wa instruction, ZA printers, 2014, safa 9
4. Braslasvsky,http://en.wikipedia.org/wiki/curriculum
5. Muhammad Sohail Khan, Dr. , Bacha Khan vision of alternative education, Bacha Khan Chair, Abdul Wali Khan University Mardan, January 2018, p-88
6. Daud Dawar Khan, Sairana ao karakatan, Milat Printer Lahore, wrombai chaap January 2003, Page 313-314
7. Shinwari Amir Hamza Khan , Ghazawany , Jadoon Press Peshawar, 2000, safa 366
8. Tofan, Wali Muhammad, bahawala Wali Muhammad Tofan shakhseeyat awarfan az Hanif Khalil, Akadami Adabyaat Pakistan 2017, safa 86, 87
9. Khaleeq, Abdul Khaleeq, zh ao zama zamana, idara ishaat Sarhad Peshawar, March 1968 safa 93, 94
10. Daud Dawar Khan, Sairan ao karakatana, safa 320
11. Rehman, Tariq, Pashto zhaba (tarjuma Hanif Khalil) , University Publishers Peshawar 2011, 63, 64
12. Eazan safa 9, 101
13. Kaka Khel, Muhammad Taqweem ul Haq, Professor, Pashto Zhaba kay da taleem ao tadrees kaar, mashmola, pa sarhadi sobe kay wrombai lisani ao saqafati concerence, Pashto Academy , Peshawar University, 1966, safa 168
14. Molana Abdul Qadir, idarya, mashmola, dray myashtanai majala Pashto, Pashto Academy, Peshawar University, jild 2, shumara 4July-Sep 1959, safa 11
15. Rasa, Syed Rasool, Idarya, Mashmola, Mayshteeza majala Pashto, Pashto Academy Peshawar University, Jild 2, shumara 1, Januray 1970, 2, 3
16. Kaka Khel, Muhammad Taqweem ul HAq, Pashto zhaba kay da taleem ao tadrees kaar, mahmola, pa sarhadi soba kay wrombai lisani ao saqafati conference, safa 169, 170
17. Eazan, safa 170, 171
18. Daud Dawar Khan, Sairana ao kara katana, safwa 298, 299
19. Rahman, Tariq, Pashto zhaba (tarjuma da Hanif Khalil), safa 33